اونیزه مجله: 337
WEEKLY BOOKLET:337

د سلسلهٔ قادریه رضویه د یوولسم پیر و مُرشِد تذکره

# فیضانِ جُنیدِ بغدادي رحمۃ اللہ علیہ

پاڼې 27




د الله والو په نظر کښې دُنیا..؟ 03
د شلو کالو په عمر کښې فتویٰ لیکل 12
ما ته په جُنید باندې فخر دے 18
په آخري وخت کښې هم لمونځ 25

پیشکش: (دعوتِ اسلامی)
المدینه العلمیه
Islamic Research Center

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# فیضانِ جنیدِ بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

دُعائے امیرِ اهلسنَّت: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "فیضانِ جنیدِ بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه" اولولي یا واوري هغه د اولیائے کرامو د برکتونو نه مالا مال کړې او د خپل خوږ خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډي يې نصيب کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دُرُود شریف د ټولو عبادتونو نه افضل

حضرت فقیه ابو اللیث سمرقندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که چرې تاسو معلومول غواړئ چې دُرُود شریف د نورو ټولو عبادتونو نه افضل دے نو په دې آیت (یعني د درود په آیت) غور اوکړئ. ځکه چې الله پاک د نورو عبادتونو خپلو بندګانو ته حکم ارشاد فرمائیلے دے او دُرُودِ پاک یـې ورومبے پخپله [په خپل حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم] راولیږلو او بیا یـې فرښتو ته د دې حکم اوفرمائیلو او بیا یـې ټولو ایماندارو ته د لیږلو [لوستلو] حکم اوکړو. (مطالع المسرات، ص23)

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خلیفه مُحَدِّثِ اعظم هند حضرت مولانا شاه ابو الحامد سیِّد محمد اشرفي جیلاني کچھوچھوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکي:

شغل[1] وه ہو کہ شغل میں کردے ہمیں خدا کے ساتھ
پڑھے درود جُھوم کر سید خوش نوا کے ساتھ
(فرش پر عرش، ص68)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...کار

## مالداري د زړۀ نه ده د مال نه نۀ

د **اللّٰه** پاک د یو ډیر لوئي ولي په خدمت کښې یو مالداره ګس حاضر شو او پينځه سوه اشرفۍ (یعنې د سرو زرو سِکّې) یې ورته پیش کړې او عرض یې اوکړو: حضور! دا یوه وړه شان تحفه قبوله کړئ. هغه بزرګ اوفرمائيل: آیا ستا سره د دې نه علاوه هم نور څه مال او دولت شته؟ هغه عرض اوکړو: آؤ! زما سره ډیر مال دولت دے. هغوئي اوفرمائيل: آیا ستا دا خواهش دے چې ستا مال او دولت نور زیات شي؟ هغه عرض اوکړو: جي بالکل، هغه بزرګ رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه ارشاد اوفرمائيلو: دا اشرفۍ هم د ځان سره کیږده ځکه چې تۀ زما نه زیات د دې حقدار یې او د **اللّٰه** پاک په کَرم سره ما ته د دې ضرورت نشته او ستا په زړۀ کښې د دې خواهش موجود دے. (الرسالةالقشيرية،ص199) د اللّٰه رَبُّ‌العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## اصلي مالداري په څه کښې ده؟

د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: لَيْسَ الْغِنٰى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ، وَلَكِنَّ الْغِنٰى غِنَى النَّفْسِ ترجمه: مالداري په زیات مال کښې نه ده، آؤ! مالداري د زړۀ په غني کیدو (یعنې د زړۀ په مالدارۍ) کښې ده. (بخاری، 233/4، حدیث: 6446)

امام ابنِ بطّال رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه د حدیثِ پاک د دې حصې "**مالداري په زیات مال کښې نه ده**" لاندې فرمائي: د دې نه مُراد دا دے چې اصلي مالداره هغه نه دے د چا سره چې د دُنیا ډیر زیات سامان وي ځکه چې ډیر زیات هُغه خلق کومو له چې **اللّٰه** پاک ډیر مال ورکړے وي هغه د زړۀ نه کنجوس وي څه چې ورته حاصل شي په هغې باندې د هغه زړۀ قناعت نه کوي او د نورو په طلب کښې کوشش کوي او هغه د دې خبرې هم پروا نه کوي چې مال د کوم ځائے نه راځي نو لکه چې هغه د مال د حرص او د هغې د ډیرولو د کوشش په وجه **د مال فقیر** دے. اصلي مالداري هغه ده د

کومې په وجه چې بنده د **الله** پاک په عطا کړے شوي لږ مال باندې قناعت کوي او د ډیرو حرص او لالچ نه کوي او نه د زیاتو په طلب کښې ژاړي نو هغه حقیقي مالداره دے او هم دغه مالداري د **الله** پاک په رضا باندې راضي اوسیدل او د هغه فیصله منل دي، په دې د پوهیدو سره چې کوم څه د **الله** پاک سره دي هغه د نیکو د پاره بهتر دي. (شرح ابن بطّال، 10/ص165) شیخ سَعدي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: تَوَنگَرِي بَه دِل سَتْ نَه بَه مال یعنې مالداري د مال نه نۀ بلکې د زړۀ نه وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د الله والؤ په نظر کښې د دُنیا حیثیت

آیا تاسو ته معلومه ده چې د مالدار د مال اخستو نه انکار کوونکے د زُهد او تقویٰ نمونه دا ولي کامل څوک وو؟ دا عظیم بزرګ د سلسلۀ عالیه قادریه رضویه عطّاریه یوولسم پیر او مُرشد حضرت شیخ جنیدِ بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه وو. اولیائے کرام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم د دنیا د محبت، د مال او دولت د کثرت نه لرې وي. د **الله** والؤ په نظر کښې د مال او دولت هیڅ حیثیت نشته. اولیائے کرام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم چې د خاورې ډیرې ته توجه اوکړي نو هغه به د سرو زرو شي ځکه چې اولیائے کرام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم خپل ټول ژوند د **الله** پاک په حکمونو په عمل کولو او د **الله** پاک او د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په یاد کښې تیروي، چې د کائنات د خالق او مالک د عنایت نظر هغوئي ته حاصل وي نو د دې بې بها نعمت په مخکښې د دنیا د فاني نعمتونو او مال او دولت هیڅ حیثیت نشته، چا څه ښکلي وئیلي دي:

تختِ سکندری پر وہ تھوکتے نہیں ہیں      بِستر لگا ہوا ہے جن کا تِری گلی میں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## تعارف

د سلسلۀ عاليه قادريه رضويه عطّاريه يوولسم بزرګ، حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئي عالِمِ دِين بلكې د وخت مفتي وو. د هغوئي نوم مبارک: **جنيد**، كنيت: **ابو القاسِم** او مشهور لقب "**سيدُ الطّائفه**" (يعني د اوليائے كرامو د ډلې سردار) دے. په 216 هجرئ كښې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بغداد شريف كښې دُنيا ته تشريف راوړو. په دې وجه هغوئي ته "**بغدادي**" وئيلے شي. (شريف التواريخ، 522/1) د هغوئي د نيكه بابا نوم "**جنيد**" وو، والدِ محترم په دې وجه د هغوئي نوم هُم **جنيد** كيښودو. د هغوئي د والدِ محترم نوم "**محمد**" وو، چا چې د شيشې كار كولو په دې وجه هغوئي ته "**قَواريري**" هم وئيلے شي. او د كپړې د كار كولو له وجهې ورته "**خزازي**" هم وئيلے شي. (الرسالة القشيرية، ص50)(تاريخ بغداد، 250/7) هغوئي د مشهور ولِيِ كامِل حضرت سَري سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوريے او مُريد هم دے.

## په شجرۀ قادريه رضويه عطّاريه كښې ذِكرِ خير

د اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دامت بركاتهم العاليه له خوا چې خپل هر يو مُريد او طالِب ته كومه شجره شريف وركړے شوې ده په هغې كښې د حضرت جنيدِ بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسيله داسې دُعا شوې ده:

بَہرِ مَعْروف و سری معروف دے بے خُود سَری  جُندِ حق میں گِن جنیدِ باصَفا کے واسطے

(په دې شعر كښې د سلسلۀ عاليه قادريه رضويه عطّاريه د نهم، لسم او يوولسم پير او مرشد په وسيله دُعا شوې ده.)

**د دُعائيه شعر مفهوم:** [1] يا **الله** پاكه! ما ته د حضرت معروف كرخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسيله نيكي او خير راعطا كړې او د حضرت سَري سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسيله ما د عاجزئ او

1... د شعر په باره كښې خوندور وضاحت: په وړومبئ مصرع كښې لفظِ معروف دوه ځله راغلے دے- وړومبے معروف خو د بزرګ نوم دے او د دويم معروف معنیٰ ده نيكي او خير. هم داسې لفظ سري (دا هم د بُزرګ نوم دے) سره د بے خود سَرِي ذِكر كولو كښې دا خوبي ده چې په دواړو كښې لفظ "**سری**"موجود دے. په دويمه مصرع كښې د جنيد (دا هم د بُزرګ نوم

انکساري نمونه جوړ کړي او د حضرت جنید بغدادي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په وسیله ما په خپل لښکر کښي شامل کړي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## عربي شجره

اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د عربئ یوه شجره شریف، بصیغهٔ دُرُود شریف لیکلي ده، په هغي کښي د حضرت جنیدِ بغدادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ذِکرِ خیر څه داسي کوي: "اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمۡ وَبَارِكۡ عَلَيۡهِ وَعَلَيۡهِمۡ وَعَلَی الۡمَوۡلَی الشَّيۡخ جُنَيۡدِنِ الۡبَغۡدَادِی رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ" اے **الله** پاکه ته په حضورِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندي رحمت او برکت نازل کړي او د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په آل او اصحابو او زمونږه په سردار شیخ جنید بغدادي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ باندي هم.

(تاریخ و شرح شجرهٔ قادریه برکاتیه رضویه، ص109)

## شان او عظمت

حضرت جنیدِ بغدادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته علمائے کرامو "**شیخِ تصوُّف**" (یعني د صوفیانو امام) فرمائیلے دے ځکه چي هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د تصوُّف نه د شریعت منع کړے شوي خبري لري کړي او د قرآن او د حدیثونو د قوانینو عین مطابق یې ترتیب کړو. (اعلام للزرکلی، 141/2، ملخصاً)

حضرت ابو العباس عطاء رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائیلي دي: په عِلمِ تَصَوُّف کښي زمونږه امام او پیشوا حضرت جنید بغدادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دے. (نفحات الانس، ص257)

حضرت ابو جعفر حَدَّاد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به فرمائیل: که چري عقل "**نارینه**" وے نو د حضرت جنید بغدادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په شکل کښي به وو. (یعني هغوئي ډیر زیات ذهین وو.) (نفحات الانس، ص258)

---

دے، د دي) نه مخکښي لفظ "جُنۡد" راوړے شوے دے، په دواړو کښي لفظي مناسبت دے چي په دواړو کښي "ج، ن او د" دے. (شرح شجرهٔ قادریه رضویه عطاریه، ص67)

د حضرت جنيد بغدادي رحمۃاللہ علیہ په باره کښې وئيلے شي چې د هغوئي په زمانه کښې د هغوئي په شان پاکباز او د دنيا نه بے رغبته بل نه وو ليدلے شوے. (سير اعلام النبلاء، 153/11)

حضرت ابو بکر کتّاني رحمۃاللہ علیہ په مکهٔ پاک کښې د هغوئي نه يوه پوښتنه اوکړه، د کومې چې هغوئي دومره ښکلے جواب ورکړو چې هلته موجودو لوئي لوئي بزرګانو هغوئي ته د "**تاجُ العارِفين**" لقب ورکړو. (الرسالة القشيرية، ص355)

امام ابنِ اَثير رحمۃاللہ علیہ فرمائي: حضرت جنيد بغدادي رحمۃاللہ علیہ د خپلې زمانې امامِ دُنيا دے. (الکامل في التاريخ، 469/6)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په بازار کښې عبادت

حضرت جنيد بغدادي رحمۃاللہ علیہ به هره ورځ په دکان کښې پرده راښکته کړه او 400 [رکعته] نفل به يې ادا کول. (الرسالة القشيرية، ص51) تر ديرشو کالو پورې د هغوئي دا معمول وو چې د ماسخُتن د نـمونځ نه پس به اودريدو او تر سحره پورې به يې **الله، الله** لوستل او هم په دغه اودس به يې د سحر نـمونځ ادا کولو. هغوئي فرمائي تر شلو کالو پورې تکبيرِ اُولىٰ زما نه نهٔ دے قضا شوے او که په نـمونځ کښې به د دنيا خيال راغے نو ما به هغه نـمونځ بيا ادا کولو. (تذکرة الاولياء، 9،7/2)

کاش چې د حضرت جنيدِ بغدادي رحمۃاللہ علیہ په وسيله مونږ هم پينځه واړه نـمونځونه د تکبيرِ اُولىٰ سره ادا کوونکي جوړ شو. د تکبيرِ اُولىٰ سره نـمونځ ادا کوونکے خوش قِسمته به په حديثونو مبارکو کښې د بيان کړے شوي "**تکبيرِ اُولىٰ**" او د جَمعې سره د نـمونځ ادا کولو بے شميره فضيلتونو حقدار وي. د جَمعې سره د نـمونځ د شوق زياتولو د پاره يو څو حديثونه مبارک وړاندې کيږي.

# د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څلور فرامين

(1): د جَمعې سره نـمونځ د ځانله [نـمونځ] کولو نه 27 درجې زيات دے. (بخاری، 232/1، حدیث: 645)

(2): **الله** پاک د جَمعې سره نـمونځ کوونکي محبوب ساتي. (مسند احمد بن حنبل، 309/2، حدیث:5112)

(3): چې كله بنده د جَمعې سره نـمونځ اوکړي بيا د **الله** پاک نه د خپل حاجت (يعني د ضرورت) سوال اوکړي نو **الله** پاک د دې خبرې نه حيا فرمائي چې بنده د حاجت پوره کيدو نه مخکښې واپس لاړ شي. (حلیۃ الاولیاء، 299/7، رقم: 10591)

(4): چا چې كامِله (يعني پوره) اودس اوکړو، بيا د فرض نـمونځ د پاره لاړو او د اِمام سره يې (نـمونځ) اوکړو د هغه به ګناهونه اوبخښلے شي. (ابن خزیمه، 373/2، حدیث: 1489)

د دعوتِ اِسلامي باني، اميرِ اهلسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په دې دور کښې د نيک جوړيدو د پاره مختلف "72 **نيک اعمال**" عطا فرمائيلي دي. په دې کښې دويم نيک عمل هم پينځه واړه نـمونځونه د جَمعې سره د ادا کولو په باره کښې دے. د جَمعې سره د نـمونځ کولو په باره کښې د نورو معلوماتو د پاره د امير اهلسُنّت کتاب "*فيضانِ نماز*" اولولئ. دا کتاب د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه فري ډاؤن لوډ کيدے شي بلکې د نيکئ د دعوت عام کولو په نيت د نورو سره هم د دې پي ډي ايف شيئر کړئ. اميرِ اهلسُنّت ليکي:

جماعت سے گر تُو نمازیں پڑھے گا　　　خُدا تیرا دامن کرم سے بھرے گا

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د زړۀ په خبره پوهه شو (كرامت)

حضرت خيرُ النَّساج رَحۡمَةُاللّٰہِ عَلَيۡه فرمائي: زه په کور کښې ناست ووم، په زړۀ کښې مې خيال راغے چې حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُاللّٰہِ عَلَيۡه دروازې له تشريف راوړے دے خو ما توجُّه لرې

کړه خو بيا په دويم او دريم ځل هم دغه خيال راغے، زه چې د کور نه بهر راغلم نو واقعي چې حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دروازه موجود وو، ما ته يې اوفرمائيل: په وړومبي خيال باندې بهر ولې راونوتلې! (الرسالة القشيرية، ص274)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ټول کال روژې

د سلسلهٔ عاليه قادريه رضويه عطّاريه يوولسم بزرګ، حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به ټول کال نفلي روژې نيولې. (شريف التواريخ، 526/1)

## تا د حج سفر هډو کړے نه دے

يو ځل د هغوئي په خدمت مبارک کښې يو ګس حاضر شو هغوئي د هغه نه پوښتنه اوکړه چې د کوم ځائے نه راغلې؟ هغه ګس جواب ورکړو چې زه د حج د پاره تلے ووم، هغوئي ترينه پوښتنه اوکړه آيا تا حج اوکړو؟ هغه جواب ورکړو چې آؤ جي حج مې کړے دے. هغوئي اوفرمائيل چې ښه نو دا خو اووايه چې په شروع کښې چې تهٔ د خپل کور نه اُووتلې او خپل وطن دې پريښودو نو آيا خپل ټول ګناهونه دې هم د ځان نه شاته پريښي وو؟ هغه جواب ورکړو: نهٔ. هغوئي اوفرمائيل چې بيا خو تا د حج سفر هډو کړے نه دے. (تذکره مشائخِ قادريه برکاتيه رضويه، ص193)

## د الله پاک نيکان بندګان نيک اعمال نه پريږدي

د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه جانشين، حضرت ابو محمد جُرَيري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ د يو ګس په مخکښې د مَعرِفَت (يعني د **الله** پاک د پيژندګلو) ذِکر اوکړو نو هغه ګس اووئيل: مَعرِفَتِ الٰهی والا هغه مقام ته رسي چې د نيکئ او قربِ الٰهی والا اعمال پريږدي. دا يې چې واوريدل نو هغوئي اوفرمائيل: بعضې خلق د اعمالو د پريښودو خبرې کوي او دا زما په نزد ډيره لويه خبره ده، بے شکه د **الله** پاک پيژندګلو لرونکي د **الله** پاک عطا کړے شوي اعمال اختياروي، هغوئي هم د دې سره د هغه په بارګاه کښې حاضريږي او که زه يو زر [1000] کاله ژوندے اوسيږم نو بيا به هم په نيکو اعمالو کښې يوه ذره هم کمے نه کووم. (حلية الاولياء، 296/10، رقم: 15286)

سُبْحٰنَ الله! د **الله** والؤ هم څومره ښکلے شان دے، کاش چې مونږ ته هم د عبادت داسې ذوق او شوق رانصيب شي، کاش چې د فرض نـمونځونو سره سره د تهجدو، اشراق، څاښت، اوّابينو ادا کولو سعادت هم رانصيب شي. د رَمَضَانُ الْمُبَارَک فرض روژې اونيسو او په نورو فضيلت والا مياشتو (ذوالحج شريف، محرم شريف، رجب شريف، شعبان شريف) کښې د نفلي روژو نيولو توفيق هم رانصيب شي. که زکوٰة راباندې فرض وي نو د دې د ادا کولو سره سره د څه نا څه نفلي خيرات سعادت هم رانصيب شي. د نيکو اعمالو جذبه موندلو د پاره راځئ چې د جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ په دربار کښې د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د يوې مصرعې په ذريعه فرياد اوکړو:

يا جنيد! اے بادشاہِ جُندِ عرفاں اَلمدد

ترجمه: د **الله** پاک د پيژندو لرونکو اوليائے کرامو رحمۃ اللہ علیہم د ډلې بادشاه! اے جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ زمونږه مدد اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د پير او مُرشد نصيحت

حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: زما پير او مُرشد، حضرت سَري سَقطي رحمۃ اللہ علیہ

ما ته اوفرمائيل: كوشش كوه چې ستا په كور كښې استعماليدونكي لوښي ستا د جِنس (يعني د خاورې) وي. (قوت القلوب، 344/1)

## د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د خاورو د لوښو استعمال ثابت دے

امامِ اهلِ سُنّت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ليكي: د حُضورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د تانبې او پيتلو په لوښو كښې خوراك څښاك ثابت نه دے. د خاورو يا د لرګي لوښي وو او د اوبو د پاره مشكونه هم. (فتاوىٰ رضويه، 129/22) نور فرمائي: (د خاورو په لوښو) كښې خوراک څښاك هم عاجزۍ ته نزدې دے، د خوراك څښاک لوښي د خاورې افضل دي چې په دې كښې نه اِسراف شته نه غرور. (فتاوىٰ رضويه، 336/1 ملتقطاً)

د **الله** پاک د خوږ خوږ آخري نبي، مكي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د خوراک د پاره د خاورو د لوښو استعمال ثابت دے لكه څنګه چې صحابيِ رسول حضرت خباب رَضِيَ اللهُ عَنْه فرمائي چې ما نبيِ كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پخې خاورې په لوښي كښې په اوبو څښلو ليدلے دے. (معرفة الصحابة، 174/2، رقم: 2371) په حديث كښې دي: څوک چې د خپل كور لوښي د خاورو اوساتي فرښتې به د هغې زيارت كوي. (ردالمحتار، 566/9) منقول دي چې د خاورو په لوښو باندې هيڅ حساب نشته. قوت القلوب، 288/1 ماخوذاً)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** څومره به ښه وي چې مونږه هم د ثواب ګټلو او د نورو ښو ښو نيتونو سره د خاورې لوښي استعمالوو، د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ټول كال د خاورو په لوښو كښې خوراك څښاك معمول دے، هغوئي فرمائي: زما په عامو پليټونو كښې خوراک ته زړۀ نه كيږي البته دا وئيل نه دي پكار چې د خاورو د لوښو استعمال سُنَّت دے ځكه چې په دې باندې څه واضحه روايت نۀ دے ميلاؤ شوے. (ماہنامہ فيضانِ مدينه، اكتوبر 2019، ص22)

میں مٹی کے سادہ سے برتن میں کھاؤں چٹائی کا ہو بسترا یاالٰہی

(وسائلِ بخشش، ص103)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د اووه کالو عمر کښې عِلمي فضل او کمال

حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځل د مدرسې نه کور ته تشريف راوړو نو اوئې کتل چې والدِ محترم يې ژاړي، چې هغوئي ترينه د وجهې پوښتنه اوکړه نو اوئې وئيل: ما ستاسو د ماما حضرت سَري سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې د زکوٰة څه رقم وړاندې کړو نو هغوئي د اخستو نه انکار اوکړو، نن ما ته دا احساس کيږي چې ما خپل ژوند په داسې څيز کښې تير کړو کوم چې د **الله** پاک دوستان هم نه خوښوي، حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه رقم واخستو او د ماما خوا له لاړلو، ماما يې بيا انکار کړو نو هغوئي اوفرمائيل: قسم دے په هُغه ذات چا چې په تاسو باندې فضل او زما د والد سره عدل کړے دے. حضرت سري سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: اے جنيده! هغه کوم يو عدل دے کوم چې ستا د والد سره شوے دے او هغه کوم يو فضل دے کوم چې په ما باندې شوے دے؟ هغوئي عرض اوکړو: **الله** پاک په تاسو باندې دا فضل اوفرمائيلو چې تاسو ته يې درويشي عنايت کړه او زما د والد سره يې دا عدل اوکړو چې هغه يې په دنيا کښې مشغول کړو اوس دا ستاسو خوښه ده چې تاسو دا قبول کړئ يا يې رد کړئ؟ زما په والد محترم باندې زکوٰة ورکول ضروري دي. د حضرت سري سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا خبره ډيره زياته خوښه شوه، هغوئي ارشاد اوفرمائيلو: ځويه! د زکوٰة قبلولو نه مخکښې ما تهٔ قبول کړې. حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې نه پس د ماما جان سره اوسيدل شروع کړل، يو ځل مکهٔ پاک ته حاضر شو نو هلته ډيرو بزرګانِ دِين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د "**شُکر**" په باره کښې خبرې کولې چې کله يې د هغوئي نه پوښتنه اوکړه اے بچيه! تهٔ په دې

باره کښې څه وائې؟ نو هغوئي اوفرمائيل: چې د **الله** پاک د نعمتونو سره د هغه نافرماني اونکړے شي. دا يې چې واوريدل نو ټولو د دې سره اتفاق اوکړو. (تذکرة الاولياء، 6/2)

# د شلو کالو عمر کښې فتوې ليکل

حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه د خپل ماما حضرت سري سقطي رحمة الله عليه چې د هغوئي پير او مُرشد هم دے او د حضرت حارث مُحَاسبي رحمة الله عليه د فيضانِ صحبت نه يې هم فائده حاصله کړې ده. د حضرت ابو ثور رحمة الله عليه نه يې عِلمِ فقه حاصل کړو او د شلو کالو عمر کښې يې د هغوئي په مجلس کښې د هغوئي په موجودګئ کښې فتوې ورکول شروع کړې. (الرسالة القشيرية، ص50)

# د بيان شروع او د پير او مُرشد اختيار

د سلسلهٔ قادريه رضويه عطاريه د عظيم بزرګ حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه په خدمت کښې عرض اوکړے شو: تاسو مونږ ته وَعظ او نصيحت اوکړئ! هغوئي اوفرمائيل: تر څو چې په مونږ کښې پير او مُرشد حضرت سَرِي سقطي رحمة الله عليه تشريف فرما دے زه وَعظ او نصيحت نشم کولے. حضرت سَرِي سقطي رحمة الله عليه هم هغوئي ته د وعظ او نصيحت کولو حکم اوفرمائيلو، خو هغوئي ډير د اَدَب په انداز کښې هم دغه عرض اوکړو: حُضُور! ستاسو په مخکښې زه وَعظ اوکړم، ما ته ښه نه ښکاري. د جُمعې په شپه چې کله اوده شو نو په خوب کښې د **الله** پاک خوږ خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صلى الله عليه وآله وسلم د سپوږمئ په شان د پړقيدونکي مخ سره تشريف راوړو او ورته اوئې فرمائيل: جنيده! خلقو ته بيان کوه! ستا د بيان په ذريعه به **الله** پاک ډيرو خلقو ته نجات عطا کړي. چې کله سحر شو نو حضرت سري سقطي رحمة الله عليه يو مُريد اوليږو چې کله جنيد د نـمونځ نه سلام اوګرځوي نو ورته اووايه: د ډيرو خلقو او زما په پيغام هم تا بيان شروع نه کړو. اوس خو نبي کريم صلى الله عليه وآله وسلم

هم حکم ارشاد فرمائيلے دے. حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته پته اولګيده چې زما پير او مُرشد زما د زړهٔ د حال نه ښه خبر دے. (کشف المحجوب، ص136) (نفحات الانس فارسی، ص81)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د الله په نُور سره به يې ليدل

حضرت شيخ جنيدِ بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هم په هغه سحر په جامِع مسجد کښې بيان شروع کړو. په خلقو کښې دا خبره فوراً خوره شوه چې د نن به جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بيان فرمائي. يوه ورځ يو ځلمے په اجتماع کښې اودريدو او پوښتنه يې اوکړه. اے شيخ! اووايئ د حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې ارشاد مبارک: اِتَّقُوْا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَاِنَّهٗ يَنْظُرُ بِنُوْرِ اللهِ يعني د "د مؤمِن د فِراست نه ويرېږئ ځکه چې هغه د **الله** په نُور سره ويني". (ترمذی، 88/5، حديث: 3138) څه مطلب دے؟ د هغوئي پوښتنه چې يې واوريده نو حضرت شيخ جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د لږ ساعت د پاره سر ښکته کړو او بيا يې سر مبارک راپورته کړو او (د غيبو خبر يې ورکړو او) ارشاد يې اوفرمائيلو: اے ځلميه! ته نصراني (يعني عيسائي) يې او اوس ستا د مسلمانيدو وخت راغلے دے، ايمان راوړه. هغه ځلمے خوک چې واقعي عيسائي وو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې کرامت ليدو سره هم هغه وخت مسلمان شو. (روض الرياحين، ص157 ملخصاً)

نگاہِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

## الله پاک خپلو اولياؤ ته علمِ غيب عطا کوي

د دې واقعي نه د مبلغ مقام معلوم شو. سُبْحٰنَ الله! حضرت شيخ جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د

عاجزئ په طور خپل ځان د بيان د پاره اهل نه ګڼلو، حالانکه د **الله** پاک په فضل او کرم سره هغوئي رحمۃ اللہ علیہ زبردست عالِم او مفتي وو، په هغوئي باندې د کرم د پاسه کرم دا اوشو چې په خوب کښې يې رسولِ اکرم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم تشريف راوړلو او د بيان حکم يې ورته اوفرمائيلو. د دې واقعې نه دا هم معلومه شوه چې زما مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم به د ربُّ **العلٰی** په عطا سره د غيبو علم لرلو، په دې هم د پوهيدو موقع ميلاؤ شوه چې د خوږ مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په فيضان سره اوليائے کرامو ته هم علم غيب وي ځکه خو حضرت سَري سقطي رحمۃ اللہ علیہ د خپل خاص مُريد د خوب نه خبر شو. د دې سره سره حضرت جنيدِ بغدادي رحمۃ اللہ علیہ خو هم غير مسلمه په مومنانه فِراست سره اوپيژندو او د غيبو د خبر نه ډک ښکلي انداز کښې يې هغه ته د نيکئ دعوت عنايت کړو او د هغه د کرامت نه د ډک د نيکئ د دعوت په برکت سمدستي د اسلامِ د رحمت لمنې ته راغے. (نیکی کی دعوت، ص36)

## يو نه دوه کرامتونه

حضرت امام يافعي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي چې "بعضې خلق دا واقعه د حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ يو کرامت ګڼي او زه وايم چې په دې کښې د هغوئي دوه کرامتونه دي يو د هغه [عيسائي] د کُفر نه د هغوئي خبريدل، دويم دا معلوميدل چې دا ګس به هم په دې وخت اسلام قبلوي. (نفحات الانس، ص81)

جو ہو اللہ کا ولی اُس کا فیض دنیا میں عام ہوتا ہے

(وسائلِ بخشش، ص441)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فِراست تعريف

په حديث مبارک کښې د "**فِراست**" ذِکر دے د دې په معنٰی هم ځان پوهه کړئ. د فراست

معنٰی دہ: **الله** پاک د خپلو اولياؤ په زړونو کښې هغه څيز اچوي د کوم نه چې هغوئي ته د بعضې خلقو د حالاتو پته لګي. (النهايه،383/3)

## قيمتي نکات

ابو العباس سُرَيج رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما يوه ورځ بيان اوکړو: (د بيان ښکلې نکتې وغيره چې يې واوريدلې نو) خلق ډير خوشحاله شول، نو ما اووئيل: دا د ابو القاسم جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د صحبت برکت دے. (سير اعلام النبلاء،154/11)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې واقعه کښې يو اړخ ته د حضرت جنيدِ بغداي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه علمي شان او عظمت ظاهريږي، نو بَل اړخ ته د حضرت ابو العباس سُرَيج رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه انداز د مبلغينو د پاره ډير د عمل قابل دے چې کله د هغوئي د بيان تعريف اوکړے شو نو هغوئي د بيان هغه ښې نکتې د ځان طرف ته د منسوب کولو په ځائے هغې ته د حضرت جنيدِ بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فيضان اووئيلو. افسوس! نن سبا خو معامله د دې نه بالکل اُلټا ده خپله خوبي خو يو خوا کړه د بَل د کار د انعام حقدار هم خپل ځان ګڼي چې هغه ته دا کار ما ښودلے وو وغيره.

د چا عمل چې بے غرضه وي د هغه جزا څه نوره ده

## په خواهش باندې يې عمل اونکړو

حضرت جعفر بن نصير رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بيانوي چې سيِّدُ الطائفه (يعني د اولياؤ د ډلې سردار) حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ما له يو درهم راکړو چې "په دې ما له وزيري اينځران راوړه. ما واخستل او را مې وړل. چې کله د روژه ماتي وخت شو او هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يو اينځر خُلې ته کړو نو فوراً يې بيرته راوِيستلو او په ژړا شو بيا يې ارشاد اوفرمائيلو: "دا اوچت کړه." ما چې د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائيل: "زما زړۀ ته غيبي آواز اوشو چې تا له شرم نه درځي چې تا يو خواهش زما د پاره پريښودو خو بيا د هغې طرف ته اوګرځيدې. (الرسالة القشيرية،ص191)

اللہ کے نبی سے فریاد ہے نفس کی بدی سے
ہے ظالم! میں نباہوں تجھ سے اللہ بچائے اس گھڑی سے

(حدائقِ بخشش، ص145،147)

شرحِ کلام رضا: د **الله** پاک او د هغه د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د نفس د شرارتونو، بدو په باره کښې فریاد دے. اے د **الله** پاک د نافرمانئ په لور لمسوونکیه ظالمه نفسه! چې زه ستا خبره اومنم **الله** پاک دې ما د هغه وخت نه بچ ساتي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د هغوئي په شان مې اونه لیدو

یو بزرګ فرمائي: ما په بغداد شریف کښې یو شیخ اولیدو چا ته چې "**جنید**" وئیلے شي، ما د هغوئي په شان ګس نه دے لیدلے ځکه چې د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه په بهترینو خبرو کښې د ښکلو الفاظو د انتخاب په وجه په فصاحت او بلاغت پوهیدونکي، د مشکلو الفاظو په معنو د پوهیدو د پاره فسلفیان او د ژورو خبرو حاصلولو د پاره به د علمِ کلام پوهان حاضریدل.

(سیر اعلام النبلاء، 154/11)

## بے ادبه نشي کیدے

د بغداد خلیفه یو ګس ته په څه خبره باندې اووئیل: اے بے ادبه! هغه جواب ورکړو: آیا زه بے ادبه یم؟ حالانکه ما نیمه ورځ د حضرت جنید بغدادي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه په خدمت کښې تیره کړې ده او څوک چې نیمه ورځ هم د هغوئي په صحبت کښې تیره کړي هغه بے ادبي نشي کولے، بیا به د هُغه کس څه حال وي کوم چې ډیر وخت د هغوئي په صحبت کښې پاتې شوے وي. (نفحات الانس، ص80)

## د علمِ دِین حاصلول

عارف بِالله (یعني د **الله** پاک پيژندګلو لرونکے) حضرت امام عبدُ الکریم بن هوازن قشيري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي چې سيِّدُ الطّائفه حضرت شيخ جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته چا عرض اوکړو: حضور! تاسو دا علم د چرته نه حاصل کړو؟ هغوئي په خپل کور کښې د يوې پوړئ په لور اشاره اوکړه او ارشاد يــې اوفرمائيلو: د **الله** پاک په بارګاه کښې د دې پوړئ لاندې به تر ديرشو کالو پورې کښيناستم او دا علم مې حاصل کړو. (الرسالةالقشيرية، ص51)

## زه په جنيد باندې فخر کووم

په خوب کښې يو بزرګ رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د **الله** پاک د خوږ خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار اوکړو، اوئې کتل چې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هم حاضر دے، په دې کښې يو ګس راغــے او هغه په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې فتوىٰ وړاندې کړه، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اشاره اوکړه او اوئې فرمائيل چې جنيد له يــې ورکړه هغه به يــې جواب درکړي. هغه عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو په موجودګئ کښې يــې دوئي له څنګه ورکړم؟ د **الله** پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام ته په خپلو اُمتونو باندې فخر وو او زه په "**جنيد**" باندې فخر کووم.

(شريف التواريخ، 29/1)

## د نفس د بيمارئ علاج

حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه شپه ما له خوب نه راتلو نو زه کښيناستم د پاره د دې چې زه خپل وِرد او وظيفه اوکړم خو روزانه چې به د وظيفې لوستلو په وخت کومه مزه او سکون محسوسيدو هغه محسوس نشو. ما بيا د اوده کيدو اراده اوکړه، خو خوب رانغلے، ما بيا د پاڅيدو اراده اوکړه خو کښيناستو ته مې هم زړهٔ نه کيدو. بيا ما اوليدل چې زما کور خوزي لکه چې اوس به راپريوځي نو زه د کور نه بهر راغلم، بهر چې راغلم نو څه ګورم چې په سخته

يخنۍ کښېږي يو کس چې خادر ئې د ځان نه راتاو کړے په لاره کښې پروت دے. هغه سر راپورته کړو او اوئې وئيل: اے ابو القاسم! زما خوا له تشريف راوړئ. ما اووئيل: بغير د څه وعدې او واقفيت نه؟ هغه کَس اووئيل: آؤ. ما زړونو له د حرکت ورکوونکي (اللّٰه پاک) په خدمت کښې عرض اوکړو چې هغه ستاسو زړۀ زما په لور متوجه کړي د پاره د دې چې زما خوا له راشئ. بيا هغه پوښتنه اوکړه: اے شيخ! دا ارشاد اوفرمايئ: د نفس بيماري کله د هغې دوائي جوړيږي؟ ما اووئيل: چې کله ته د نفس د خواهشونو مخالفت اوکړې. بيا هغه خپل نفس ته مخاطب شو او اوئې وئيل: اے زما نفسه! واوره، ما تا له دا جواب اووه کَرَته درکړو خو تا اووئيل: زه به دا جواب هله منم چې کله يې د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پخپله واورم. دا يې چې اووئيل نو هغه د هغه ځائے نه روان شو. ما هغه اونه پيژندو.

(جامع کراماتِ اولياء، 12/2)

## نفساني خواهشات د هلاکت سبب

ياد ساتئ! د جائز او ناجائزه پروا کولو نه بغير د نفس هر خواهش پوره کولو کښې اخته کيدلو ته اِتباعِ شهوات (د خواهشونو پيروي کول) وئيلے شي. (باطنی بیماریوں کی معلومات، ص101)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د نفساني خواهشونو په پيروۍ کښې تش نقصان دے، په حديثِ پاک کښې دي: درې خيزونه په هلاکت کښې اچول کوي. ﴿1﴾ داسې بُخل د کوم چې اطاعت [يعني تابعداري] اوکړے شي ﴿2﴾ د نفساني خواهشونو پيروي کول [يعني د نفس په خواهشونو پسې تلل] ﴿3﴾ د انسان خپل ځان ښه ګڼل. (معجم اوسط، 212/4، حديث: 5754)

رِہائی مجھ کو ملے کاش! نفس وشیطاں سے     ترے حبیب کا دیتا ہوں واسِطہ یارب

(وسائلِ بخشش، ص78)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!     صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت جنيدِ بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خطونه په قبر كښې

حضرت جنيد بغدادي او شيخ ابو بڪر كسائي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِمَا يو بَل ته د زړګونو ديني مسئلو په بابله خطونه ليکلي وو هغوئي د ټولو جوابونه ليکلي وو، حضرت ابو بڪر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل وفات شريف په وخت وصيت اوفرمائيلو چې د دې ټولو ديني مسئلو خطونه زما سره په قبر كښې كيښودئ، زما دا دومره خوښ دي چې زه دا غواړم چې دې مسئلو له په مخلوق كښې څوک هڅو ګوتې هُم ور نوړي. (شريف التواريخ، 530/1)

## د واقعاتو اهميت

د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت كښې عرض اوكړے شو: مريدانو ته د بزرګانو د واقعاتو وغيره اوريدو سره څه فائده حاصليږي كه نه؟ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: ضرور حاصليږي اَلْحِكَايَاتُ جُنْدٌ مِّنْ جُنُوْدِ اللهِ يُقَوِّىْ بِهَا قُلُوْبَ الْمُرِيْدِيْن يعنې د بزرګانو واقعات د **الله** پاک د لښكرو نه لښكر دے په كومو باندې چې **الله** پاک د مريدانو زړونه مضبوطوي، بيا چې كله د هغوئي نه د دې خبرې د دليل په باره كښې پوښتنه اوكړے شوه نو هغوئي دا آيت مبارک تلاوت كړو:

وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ ۚ

(پ12، هود:120)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ الْعِرفان: او د رسولانو د خبرونو نه مونږ ټول تا ته اَورَوو چې د هغې په ذريعه ستا زړه ته قُوَّت وركړو.

(الرسالة القشيرية، ص238)

## د "بغداد" د پينځوو حروفو په نسبت سره د جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پينځه واقعات

## (1): د مُريد حال د مُرشد نه پټ نه وي

د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو مُريد كوم چې په بصره شريف كښې يواځې اوسيدو، د هغه په زړۀ كښې يوه ورځ د څه ګناه خيال راغے، د هغه بد خيال د سپيرۀ والي په وجه د هغه

مخ تک تور شو، هغه ډېر ويريدو، درې ورځې پس تور والے ختم شو، هم هغه ورځ ورته د هغه د پير او مرشد حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خط ميلاؤ شو، په هغې کښې ليکلي وو: خپل زړۀ په قابو کښې ساته، د مخ د تور والي وينځلو د پاره تر دريو ورځو پورې ما د دهوبي [په شان] کار اوکړو. (تذکرةالاولياء،2/18)

## (2): د پير د امتحان اخستونکي انجام

حضرت داتا گنج بخش سيد علي هجويري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ليکي: د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يو مُريد دا اوګڼله چې هغه ته هم د **الله** پاک پيژندګلو حاصله شوې ده اوس هغه ته د مرشِد ضرورت نشته. لهٰذا هغه د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د بارګاه نه مخ واړولو او لاړو. بيا يوه ورځ هغه د کتو او ازمېښت د پاره راغلے چې آيا حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د هغه د زړۀ د خيالونو نه خبر دے که نه؟ هلته حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هم په خپل نُورِ فراست سره د هغه د زړۀ د حالت نه خبر شو. کله چې هغه مُريد حاضر شو او پوښتنه يــې اوکړه نو هغوئي ارشاد اوفرمائيلو: څنګه جواب غواړې، په لفظونو کښې يا په معنو کښې؟ اوئې وئيل: دواړه قِسمه. نو هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: که په لفظونو کښې جواب غواړې نو واوره! که زما د ازمائيلو نه مخکښې دې خپل ځان ازمائيلے وے نو زما د ازمائيلو ضرورت به نه پيښيدو او معنوي جواب دا دے چې ما تۀ د ولايت د منصب نه معزوله کړې. هغه اووئيل: د يقين راحت زما د زړۀ نه لاړو، بيا يــې توبه او استغفار شروع کړو. حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ارشاد اوفرمائيلو: تۀ نه پوهيږې چې د **الله** پاک وليان د هغه د رازونو نه خبر وي بيا هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هغه دم کړو نو هغه خپل حالت ته واپس راغــے. (کشف المحجوب، ص137)

## (2): د ډاکټر علاج اوشو (کرامت)

د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مبارکې سترګې يو ځل بيمارې شوې او درد يــې شروع کړو.

يو غير مسلمه طبيب (يعنې ډاکټر) اووئيل: سترګې د اوبو نه بچ ساتئ. (خو) هغوئي چې د ماسخُتن د نـمانځه د پاره اودس اوکړو نو سحر درد ختم شو او غيبي آواز راغـے: اے جنيده! تا زمونږ په عبادت کښې د سترګو خيال اونه ساتو، ځکه مونږه ستا درد ختم کړو، سحر چې کله طبيب معلومات اوکړو: نو هغوئي اوفرمائيل چې د اودس کولو سره زما درد ختم شو، هغه هُم هُغه وخت د هغوئي د کرامت او ثابت قدمئ نه متاثره شوه او د زړهٔ نه مسلمان شو. (شريف التواريخ، 526/1 بتغير)

دا د جنيد بغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه توکل وو او د توکل اعلیٰ مقام ته د رسيدو په وجه هغوئي داسې اوکړل، د يو عام انسان د پاره د شريعت دا حکم دے چې که يو ديني معلومات لرونکے ماهر ډاکټر کوم چې فاسقِ معلن نه وي که په يو مرض کښې د اوبو استعمالولو نه منع کړي يا په يوه بله شرعي مسئله کښې د آسانئ حکم اوکړي نو د مفتي صاحب سره د مشورې کولو نه پس په هغې باندې په آسانئ سره عمل کيدے شي.

## ډاکټران دې متوجه شي

بعضې ډاکټران په وړه شان بيمارئ باندې مريض ته د روژې پريښودو، د نـمونځ په ناسته د کولو يا د نه کولو وغيره حکمونه جاري کوي، داسې ډاکټرانو ته عرض دے چې په ديني مسئله کښې د خپله ځانه دخل اندازي کول ډيره لويه جُرات مندي ده، که تاسو ته د يو مريض د مرض په باره کښې داسې په آسانئ سره د عمل نه کولو د نقصان سل فيصده يقين وي نو بيا هم هغه مريض ته د خپله ځانه د آسانئ ورکولو په ځائے د خپلې رائے اظهار کول او د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د دار الافتاء اهلسنّت له طرفه رهنمائي حاصلول پکار دي ګنې خدائے دې نه کړي تاسو د ګناه مشورې ورکولو والا جوړيدے شئ. د دار الافتاء اهلسنّت سره د رابطې د پاره په دې نمبرو باندې کال اوکړئ.

03113993313.03113993312.03117864100

[د دار الافتاء اهلسنّت] **د کار وختونه**: سحر د 10 نه تر مازديګر 4 بجو پورې (وقفه د 1 نه تر 2

بجو پورې، د اتوار په ورځ تعطيل)

## (4): د صبر تلقين

حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځل د يو مريض د تپوس د پاره تشريف يوړلو، هغه وخت هغه د بيمارئ له وجې ژړل، حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه ته په نصيحت کښې اوفرمائيل: د چا په عطا کړے شوي تکليف باندې ژاړې؟ او چا ته د دې شکايت کول غواړې؟ د هغوئي د حکمت نه ډکه دا خبره چې يـې واوريدله نو هغه چپ شو. (تذکرۃالاولیاء،12/2)

## (5): شيطان يـې لاجوابه کړو

حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل زما په زړهٔ کښې د ابليس د ليدو خواهش پيدا شو، هم دغسې يوه ورځ زه د جومات په دروازه کښې ووم، ما لرې يو بوډا اوليدو، د هغه د ليدو سره ما په خپل زړهٔ کښې ويره محسوس کړه، چې کله هغه رانزدې شو نو ما ترينه پوښتنه اوکړه: تهٔ څوک يـې؟ اوئې وئيل: هم هغه يم د چا د ليدو چې تاسو خواهش کړے وو. زه پوهه شوم چې دا ابليس دے، ما هغه اورَټَلو او اومې وئيل: اے خبيثه! تهٔ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته د سجدې کولو نه کوم څيز منع کړې؟ ابليس اووئيل: اے جنيده! تهٔ څه غواړې چې ما د **الله** پاک نه بغير بَل چا ته سجده کړې وے. حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د ابليس دا خبره چې مې واوريدله نو زه حيران پاتې شوم، هغه وخت ماته الـهام اوشو (يعني زما په زړهٔ کښې دا خبره واچولے شوه) چې اے جنيده! ده ته اووايه! كَذَبْتَ لَوْ كُنْتَ عَبْدًا مَامُوْرًا مَا خَرَجْتَ عَنْ اَمْرِهٖ يعني اے خبيثه! تهٔ دروغژن يـې، که چرې تهٔ واقعي د خپل مالِک (يعني د الله کريم) بنده وے نو هيڅکله به دې هم د هغه نافرماني نه کوله. شيطان ته د هغوئي د زړهٔ د خبرې پته اولګيده او فوراً د هغه ځائے نه اوتښتيدو. (کشف المحجوب، ص137 بتغیر)

## (6): د يو غير مسلمه مسلمانيدل

حضرت جنید بغدادي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ یو ځل په بابُ الطلق کښې یو ډیر ښائسته غیر مسلمه ځلمے اولیدو نو په بارګاه الٰهی کښې یـې عرض اوکړو، الٰهی! تا دې ځلمي له ډیر حُسن ورکړے دے، دے زما د کار جوړ کړې یعنې ده ته معرفتِ الٰهی عطا کړې. د هغوئي د دُعا لا لږ وخت تیر شوے وو چې هغه د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په خدمت کښې حاضر شو او عرض یـې اوکړو ما ته کلمه اووایئ. هغوئي هغه ته کلمه اووئیله او مسلمان یـې کړو او بیا هغه نوے مسلمان یو څو ورځې د هغوئي د صحبت نه پس د ولایت اوچت مقام ته اورسیدو.
(کشف الحجوب، ص54 ملخصاً)

## صَـلُّـوۡا عَـلَی الۡـحَـبِـیۡـب!   صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## آیا هغه وخت به کلمه هیرووم؟

حضرت ابو محمد جُریري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: زه د حضرت جنید بغدادي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د وفات شریف په وخت د هغوئي خوا ته حاضر شوم نو هغوئي تلاوت کولو، د جُمعې ورځ وه، چې کله هغوئي تلاوت ختم کړو نو ما عرض اوکړو: تاسو رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په دې وخت کښې هم تلاوت کوئ! نو هغوئي اوفرمائیل زما نه علاوه به د زیات تلاوت حقدار څوک وي! ګورې نه چې زما د ژوند نامهٔ اعمال رانغاړلے کیږي. (احیاء العلوم، 232/5) بیا چا هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ته د کلمې وئیلو اووئیل نو هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ اوفرمائیل: ما دا کلمه چرې په ژوند کښې خو هیره کړې نه ده کومه چې په دې وخت کښې تهٔ ما ته رایادوې. (الرسالة القشیریة، ص338 مفهوماً)

## د قرآنِ کریم د ختم کولو نه پس بیا تلاوت...

حضرت ابو بکـر عَطَوي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: زه د حضرت جنید بغدادي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د وصال په وخت د هغوئي په خوا کښې ووم. هغوئي ټول قرآنِ کریم ختم کړو بیا یـې د سورهٔ **بقره** نه تلاوت شروع کړو او د اویاؤ آیتونو لوستلو نه پس هغوئي وفات شولو. (الرسالة القشیریة، ص51)

## په آخري وخت کښې هم نـمونځ

د هغوئي د وفات شريف د يو حالت په باره کښې څه داسې بيان هم دے چې حضرت ابو بکر عَطّار رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ بيانوي چې زه د خپلو يو څو ملګرو سره د حضرت ابو القاسم جنيد بغدادي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د وفات شريف په وخت د هغوئي په خدمت کښې حاضر ووم، هغه وخت هغوئي په ناسته نـمونځ کولو، کله چې به يــې د سجدې اراده اوکړه نو خپلې ښپې به يــې راټولې کړې، هغوئي هم داسې کول، هغه وخت موجود بَسَّامي نومې د هغوئي يو دوست چې اوليدلو چې د هغوئي ښپې پړسيدلې دي نو اوئې وئيل: ابو القاسم! دا څه دي؟ اوئې فرمائيل: دا د **اللّٰه** پاک نعمتونه دي، اَللّٰہُ اَکۡبَر! کله چې د نـمونځ نه فارغ شولو نو حضرت ابو محمد جُريري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ عرض اوکړو: حضور! تاسو له څملاستل پکار دي. اوئې فرمائيل: ابو محمد! دا د انعام وخت [دے]، اَللّٰہُ اَکۡبَر! بيا هم په هغه حالت وو تر دې چې د هغوئي وصال اوشو. (حلیۃالاولیاء، 299/10، رقم:15295)

## سعادت مند مُريد

حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په کال 298 هجرئ کښې د جُمعې په ورځ وفات شولو او په بَله ورځ خاورو ته اوسپارلے شو، تقريباً شپيتۀ زره خلقو د هغوئي په جنازه کښې شرکت اوکړو. د هغوئي مزار مبارک ته خلق روزانه تر يوې مياشتې يا د دې نه هم تر زياتو ورځو پورې حاضريدل. هغوئي د خپل پير او مرشد حضرت سري سقطي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په ژوند مبارک کښې د هغوئي په صحبت کښې د اوسيدلو سره سره د وصال نه پس هم د هغوئي په خوا کښې دے. د هغوئي مزار شريف د خپل پير او مرشد د مزار شريف سره بالکل خوا ته په بغدادِ معلّٰی کښې دے. (تاریخ بغداد، 256،255/7)

## د تهجدو د نـمونځ په برکت بخښنه

حضرت امام جنيد بغدادي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د وفات شريف نه پس چا په خوب کښې اوليدو نو پوښتنه يــې ترينه اوکړه: اے ابو القاسِم! د وفات نه پس ستاسو سره څه معامله اوشوه؟ اوئې

فرمائيل: مونږ له صرف هغه وړو وړو رکعتونو فائده راکړله کوم چې به مونږ د سحر [يعنې تهجُّد] په وخت ادا کول. (حلیۃالاولیاء، 276/10، ماخوذاً)

## د سحر تسبیحات يې پکار راغلل

په يو بَل روايت کښې دي چې چا ته يې په خوب کښې تشريف راوړلو او اوئې فرمائيل: زمونږه اشاراتو او عباراتو مونږ له هيڅ فائده رانکړه بلکې مونږ له هُغه تسبيحاتو فائده راکړه کوم چې به مونږ د سحر په وخت لوستل. (الرسالۃالقشیریه، ص419)

## د "یا جنید" د شپږو حروفو په نسبت سره

## د جنید بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شپږ ارشادات

﴿1﴾: څوک چې غواړي چې د هغه دين بچ شي او د هغه زړۀ او بدن راحت اوومي نو د خلقو سره دې نه ميلاويږي ځکه چې دا د وحشت دور دے. عقلمند هغه دے څوک چې تنهائي اختيار کړي. په تنهايئ کښې مشقت برداشت کول د خلقو د خوشامدې نه زيات آسان کار دے. (طبقاتُ الکبریٰ للشعرانی، 121/1)

﴿2﴾: **الله** پاک چې کله د کوم مُريد سره د خير اراده فرمائي نو هغه د صوفيائے کرامو په ښپو کښې اوغورځوي. (طبقاتُ الکبریٰ للشعرانی، 121/1)

﴿3﴾: ما چرې هم څوک نه دي ليدلي چې د دنيا تعظيم اوکړي بيا په دې کښې د هغه سترګې يخې شوې وي، سترګې صرف د هغوئي يخيږي څوک چې دا حقيره [سپکه] اوګڼي او د دې نه مخ واړوي. (طبقاتُ الکبریٰ للشعرانی، 122/1)

﴿4﴾: څوک چې په خپل نفس باندې د ښه نيت دروازه برسيره کړي نو **الله** پاک په هغه باندې د توفيق اويا دروازې برسيره کړي او څوک چې په خپل نفس باندې د بد نيت دروازه برسيره کړي **الله** پاک په هغه باندې د رسوايئ اويا دروازې د هُغه ځائے نه برسيره کوي چې هغه يې

شعور هم نه لري. (طبقات الکبریٰ للشعرانی، 122/1)


﴿5﴾: په بیمارو او غم، درد کښې خلور خاصيتونه دي. (1)پاک والے. (2)ورانول. (3)يادول او (4)قيد کول. بیمارۍ او پریشانۍ غټ ګناهونه پاکوي او واړه ګناهونه ورانوي او [بنده ته] **الله** پاک وریادوي او د ګناهونو نه منع کول کوي. (شعب الایمان، 227/7، حدیث:10106) (يعنې بنده چې کله بیمار شي نو هغه ته دا خلور برکتونه نصيب کيږي، هغه د غټو ګناهونو نه پاکيږي، د هغه واړه ګناهونه ورانيږي او بيمار ګس **الله** پاک يادوي او بيمار کس د ګناهونو نه منع کيږي.)

﴿6﴾: په دُنيا کښې دوه آفتونه دي. (1) د علم آفت او (2) د مال آفت. د علم د آفت نه د نجات د پاره په علم باندې عمل اوکړه او د مال د آفت نه د بچ کيدو د پاره د مال نه بے رغبته (بے پروا) شه. (فیض القدیر، 519/1، تحت الحدیث:716)

(د حضرت جنیدِ بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نورو ارشاداتو لوستو د پاره د مکـتبة الـمدينه رساله ارشاداتِ جنيد بغدادي اولولئ يا يـې د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه فري ډاؤن لوډ کړئ او پخپله يـې هم اولولئ او خپلو پيژندګلو خلقو ته يـې هُم اوليږئ او ثواب اوګټئ.)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د راتلونکې اونۍ مجله




978-969-722-597-2
01082462

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net